
# جنوبي وزيرستان: ټي ټي پي ته ګڼه مرګ ژوبله اوښتې

جنوبي وزيرستان؛ ګومل ذام سره په بين الصوبايي باونډري باندے دامنيتي ځواکونو په ګډو عملياتو کې د ټي ټي پي ۱۰ ترهګر وژل شوي دي۔






د تفصيلاتو له مخې، په سيمه کې ګمارل شوي امنيتي ځواکونو په وخت سره د ترهګرو د بين الصوبايي تګ را تګ نشاندهي کړي او د بلوچستان سره نزدے په قبايلي سيمه کې د ګمارل شوي ځواکونو په ګډه همکارۍ سره د ټولو خواوو څخه ترهګر محاصره کړل۔ په خورا ستونزمن غرنۍ سيمه کې د څو ساعتونو په سختو ډزو کې د ټي ټي پي ۱۰ تنه ترهګر ووژل شول او د نورو ترهګرو لټون روان دی۔ د عملياتو په بهيرکې دوه تنه د امنيتي ځواکونو اهلکار هم شهيدان شوي۔

په خيبر پښتونخوا او په خاصه توګه په شمالي او جنوبي وزيرستان کې امنيتي ځواکونو د ترهګرو په ضد ګيره تنګه کړې ده چې له امله يې ترهګر په پرله پسې توګه تګ راتګ ته اړ کيږي او د امنيتي ځواکونو لخوا په نښه کيږي۔